# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

انجینر محمد داوود اڅک
۰۸ جولای ۲۰۱۷

## مشروعیت ته هر اړخیزه کتنه

که څه هم ډیر سیاسیون پدې عقیده دي چي مشروعیت د شریعت یا شرع څخه اخیستل سویدی خو په لغت کي د ( قانون مند یا د قانون مطابق) په معنا دی او په ټوله کي د درست ، پرحق ، قانوني ، حلال ، مشروع او حقانیت معنا ورکوي چي په انګلیسي کي Legitimation ورته وایي .

غصب Usurpation د مشروعیت قاتل بلل سویدی ، کله چي یو څوک په زور یا نیرنګ باندي د کودتا یا نورو غیر قانوني لارو څخه قدرت تر لاسه کړي معنا داچي نوموړي شخص قدرت غصب او مشروعیت ئی تر پښو لاندي کړیدی.

مشروعیت په اصطلاح کي هغه عقلاني توجیه ده چي یو حاکم ئی د خپلو اعمالو د پاره وړاندي کوي . په بل عبارت مشروعیت په یوه حکومتي نظام کي هغه ځانګړتیا ده چي یو حاکم د هغه ځانګړتیا په کومک خپله حکمراني صحیح او قانوني بولي چي خلګ هم د هغه ځانګړتیا پر بنسټ د حکومت تابعیت خپله دنده ګڼي .

مشروعیت د سیاسي فلسفي و دغه سؤال ته هم جواب ورکوي چي : ولي ځني خلګ باید حکومت وکړي او نور خلګ موظف دي چي اطاعت ئی وکړي . همداسي مشروعیت روښانه کوي چي یو حاکم د خپل حکم د نافذولو د پاره باید کومي ځانګړتیاوي او صلاحیتونه ولري .

الماني تاریخ ، اقتصاد ، سیاست او حقوق پوه ماکس وبر همدغه موضوع څیړلي ده او د مشروعیت لپاره ئی لاندي دري سرچیني وړاندي کړیدي :

۱- سنتي مشروعیت .

۲- کاریزماتیک Charismatic (ذاتي جذابیت) مشروعیت .

۳- عقلاني مشروعیت .

۴ - زه هم د ماکس وبر پر مشروعیت تخصصي Vocation مشروعیت ور اضافه کوم چي په نوبت به باندي پر وکړو.

لومړی – سنتي مشروعیت : دوود ، عُرف یا سنت یو خاص روش دی چي خلګ په یوه معینه مسئله کي د هغه پیروي کوي بیله دې چي په قانون کي ذکر سوی وي ، په بل عبارت سنت غیر لیکل سوی قانون دی .

بیله شکه چي د افغاني ټولني په شان په وروسته پاته او قبیله ئی ټولنو کي سنت غښتلی او د قانون رول لوبوي ځکه نو سنت د خپل صلاحیت پر بنسټ په ټولنه کي حاکمانو او ځینو دودیزو بنسټونو ته مشروعیت وربخښي ، د بیلګي په ډول :

- د جرګو جوړيدل او د جرګو په واسطه د قوانينو او حاکمانو ټاکل .

- د سياسی رهبرانو ټاکل د ميراثي يا سنتي رواجونو پربنسټ .

- د قومونو د مشرانو ټاکل .

- د کليو د ملکانو ټاکل .

- ملا او پيرانو ته مشروعيت ورکول .

- په قوم او قبيله کي د صلحي او جنګ کولو پريکړه کول او داسي نور .

دوهم – کاريزماتيک مشروعيت : کاريزما د يوه رهبر هغه نبوغ او جذابيت دی چي پخپلو پلويانو کي د محبوبيت ، تأثير ښندني او اعتماد سبب کيږي ځکه نوموړی رهبر يا شخص کولای سي چي د خپل نبوغ پر بنسټ ښه مديريت او ښه رهبريت وکړي . يعني کاريزماتيک د مشروعيت هغه ډول دی چي د يوه شخصيت په ځانګړتياوو پوري اړه لري ځو نوموړی رهبر وکړای سي چي د خپلو ځانګړو صفتونو پر بنسټ د يوه مقام ، حکومت او قدرت تر لاسه کولو لپاره مشروعيت تر لاسه کړي .

دريم – عقلاني مشروعيت : هغه مشروعيت دی چي يوه حاکم يا حاکميت د ځو اړخو څخه خپل معيارونه پوره کړيوي يعني په قانوني ډول قدرت ته رسيدلی وي ، د بيلګي په ډول :

عمر ئي پر معيار برابر وي ، د ښاروالي شرطونه ئي پوره کړيوي ، د تحصيلاتو معيار ئي پوره وي او بنسټيز شرط داچي رايي ئي اخيستي وي يعني انتخاب سوی وي .

څلرم – تخصصي مشروعيت : تخصصي مشروعيت يا د ځانګړو کمالاتو مشروعيت هغه مشروعيت دی چي يو شخص د خپل تخصص يا د خپل ځانګړي کمال پر بنسټ دي حد ته رسيدلی وي چي خلګ ئي د هغه ځانګړي کمال پر بنسټ د رهبري يا حکومت والي جوګه وبولي او د خدمت کولو او ښه مديريت باور پر وکړي .

د بيلګي په ډول : يو ځوک ډير دلاور ، غښتلی ، پهلوان ، يا په يوه سپورټ کي نامي وي ، يا يو شخص ډير بډای ،عالم، پوه، مخترع ، هنرمند يا ښه شاعر او ليکوال وي. دا ټوله هغه شخصي ځانګړتياوي دي چي يو ځوک د عامو خلګو څخه جلا او فوق العادګي وربخښي ځو د همدغه ځانګړتياوو پر بنسټ په ټولنيزو او سياسي مسائلو کي مشروعيت اخلي. تخصصي مشروعيت کيدای سي ذاتي وي يا کسبي او زه ځکه تخصصي مشروعيت د ماکس وبر پر مشروعيت ور اضافه کوم چي موږ ئي په نړۍ کي ډيري بيلګي لرو لکه :

د امريکا پخوانی رئيس جمهور رونالد ريګن ( ١٩١١- ٢٠٠٤) چي لومړی ئي د سينما په هنر کي شهرت او محبوبيت حاصل کړ وروسته ئي د اولس مشرۍ لپاره د مشروعيت زمينه برابره سول . د امريکا اوسنی اولس مشر دونالد ترمپ هم لومړی په خپله پانګه او شتمني باندي مشهور سو وروسته اولس مشر سو ، همداسي د هند پخوانی جمهور رئيس او لوی ساينس پوه ذين العابدين عبداکلام وو چي لومړی ئي د خپلي اتومي پوهي پر بنسټ د هنديانو په زړونو کي ځای پيداکی او وروسته د (٢٠٠٢ – ٢٠٠٧ ) پوري د هند اولس مشر سو .................. .

مشروعيت د ميلاد نه مخکي لومړی ځل د (سيسرون) لخوا چي فيلسوف ، خطيب او سياست پوه وو په روم کي مطرح سو اما په مډرن عصر کي د خلګو باور او رضايت پر مشروعيت اضافه سويدی .

زما په اند د مشروعيت پر ټولو شرطو سربيره حتا تر ټاکل کيدو هم د خلګو باور او رضايت مهم دی . ځکه چي کيدای سي يو کانديد د پيسو په واسطه ، د زور او تهديد پواسطه ، د قومي يا سياسي پيوند پر بنسټ ، په کانديدانو کي د بد او بدتر تر منځ انتخاب يا هم په ټاکنو کي د درغليو په واسطه رايي واخلي او قدرت تر لاسه کړي خو تر ځو چي د خلګو

باور او رضایت ئي نه وي خپل کړی  نوموړی حاکم ځکه په خپلو کړونو کي پاته راځي چي د خلګو ملګرتیا نلري ، پورته عوامل په هغه ټولنو کي چي قانون پوره حاکمیت نلري ډیر لیدل کیږي .
پایله داچي رضایت او باور هغه څه دي چي خلګ یا ټولنه د خپل حاکم څخه دده د کړنو پر بنسټ په عقلاني ډول خوښ او باورمند وي . یعني خلګ بیله کوم شک او تشویش څخه د خپل حاکم کړني په پوره باور باندي تأئید او حمایه کوي ځکه چي حاکم ئي په عمل کي  صداقت ، قابلیت ، محبت ، وطندوستي ثابته کړي او د خلګو اعتماد ئي حاصل کړي وي، په هره ټولنه کي چي د خلګو او حکومت تر منځ باور او رضایت شتون ونلري هغه ټولنه تل د ستونزو ، کمبودیو او جنګو سره مخ وي.
لحاظا سالم حاکمیت باید د هر ډول قومي ، ژبني ، دیني ، مذهبي او سکتیرستي تعصباتو څخه پاک او په ملي جامو باندي ملبس د ملي ګټو په خدمت کي وي څو د ټولني د هر قشر او طبقي حمایت او باور د ځانه سره ولري .

۷-۷-۲۰۱۷